لیکوال او شــنانډ: نظرمحمد مطمئن

۰۴ اپریل ۲۰۱۵

## مارچ تېر شو، سوله لا هم د مرغی پی دي!

په تېر سپتمبر کي واک ته د غني له رسېدو وروسته د ډسمبر پر شپاړسمه پېښور کي پاکستاني طالبانو پر یوه ښوونځي یرغل وکړ. دلته په کابل کړدو ګومان وکړ چي د پاکستان سیاست بدل شو او سوله راغله؛ البته د دوی په باور یوازي پاکستان کولای شي افغانستان ته سوله راوړي. د مارچ میاشت تېره شوه، د ولسمشر د کار له پیله دادي نږدې ۶ میاشتي تیري شوې، د سولي اړوند ژمني چي ولسمشر او شکیلو هیوادونو او خواوو کړي وې، یوه یې هم پوره نه شوه.

### پاکستان پر طالبانو کمساری فشار راوړ!

پاکستان خپل ټول فشار پر طالبانو وکاروه، دومره فشار چي په تیرو ۱۳ کلونو کي یي ساری کم لیدل شوی و، البته سیاسي فشار، تر دې چي پاکستان طالب مشرانو ته پنځه ورځي مهلت ورکړی و چي حتماً باید له افغان حکومت سره د سولي خبرو ته کښیني او که چمتو نه شي له« بدو عواقبو» سره به مخ شي!

نږدې دري اوونی مخکي د طالبانو رهبري شورا بیا هم ناسته درلوده او په مطلق اکثریت یي پریکړه وکړه چي د پاکستان له خوا هر ډول فشارونه به زغمي، خو د پاکستان دغه خبره به په هیڅ ډول ونه مني چي د فشار په نتیجه کي له افغان حکومت سره د سولي خبرو ته کښیني.

د طالبانو رهبري شورا دا پریکړه هم کړې چي د افغانستان اړوند مسایلو کي به د خپلواکی په ساتلو سره «هیچاته» اجازه ورنه کړي چي د سیاسي، روحي، زور او نظامي فشار له امله د هغوئ غوښتنو ته تسلیم شي، بلکي هر ډول د افغانستان مسایلو اړوند پریکړه به په خپله خوښه او په خپلواکه ډول کوي.

دا خبره هم ډېره اړینه ده چي ډېری طالب مشران اوس د افغانستان او پاکستان په سرحدي سیمو کي خوندي ځایونه لري او دا ډول د افغانستان په داخل کي هم پراخي سیمي تر خپلي ولکي لاندي لري چي کولای شي په کي له حکومتي ګواښونو لري خوندی ژوند وکړي. اوسنیو حالاتو ته په کتو سره پاکستان هغه توان او متره نه لري چي پر طالبانو فشار راوړي او په پایله کي یي ګډ حکومت سره ناستي ته اړباسي. تېرو دیارلسو کلونو دا فرضیه څو څو ځلي غلطه ثابته کړه. د پخواني ولسمشر حامد کرزي په واکمنی کي هم کله چي به د دواړو هېوادونو ترمنځ

سفرونه زيات شول، دا فرضيه به بيا مطرح وه چي كه پاكستان طالبان د سولې خبرو ته اړباسي؛ خو دا فرضيه چي دومره غلطه ثابته شوه، نور ښايي باور پرې ونه شي.

## غني بايد دغسي کړي وای!

ولسمشر غني د امريكا كانګرس ته په خبرو كي دومره مخکي ولاړ چي ممكن شل كلونه وروسته هم موږ افغانان همدغه ځای ونه رسيږو، او ممكن شل كاله وروسته هم همدغه ډول يو حالت امريكايان په افغانستان كي ونه ويني.

داهم د يادوني ده كه چيرته د امريكا كانګرس كي د ګډ حکومت اجرائيه رئيس ته د خبرو زمينه برابره شوې وای، ممكن هغه له غني څخه هم د امريكا عسكرو په ستاينو او صفتونو كي مخکي تللی وای.

كله چي تره كی د كودتا له لاري واک ته ورسيد، هغه به روسانو ته ويل چي موږ تر پولند، هنګري او چکسولواکيا دوه مرحلي مخکي يو، هغوئ په ۷۰ كلونو كي ونه توانيدل چي كمونستي قوانين په خلكو عملي کړي موږ يي عملي كول له پيله شروع کړل. لومړی مو د ځمکي د وېش اصلاحات دادی په خلكو عملي کړل.

د ولسمشر اشرف غني ټولي خبرې امريكايي سياستوالو او چاروا‌كو ته سمي او په ځای خبرې وې، همداسي بايد غني کړي وای، د غني خبري تر ډيره تشريفاتي وې، بې نظيره تشريفات او مننه، ولي امريكايان عادي خلک نه دي، هغه انتظار دي چي د ګډ حکومت د مشرانو له خوا دغه خوږې او تشويقي خبري په عمل كي ووينې.

امريكايان د ده په خبرو له دي امله هم راضي ښکاري چي اوس به هغوئ خپل ملت ته جواب ولري چي په افغانستان كي داسي حکومت راغلي چي د امريكايانو صفت كوی، د امريكايي سرتيرو وژنه او د هغوئ زخمي كيدل دا ډول د امريكايي ملت ټکسونه بې ځايه نه دي تللي.

ولسمشر غني وكولای شول چي امريكا ته په خپل سفر سره د راتلونکو دوو كلونو له پاره خپل واک د امريكا د ملاتړ له امله ګرنټي کړي. ولي په كور دننه او ارګ كي دننه مخالفتونه ورته لاهم غټ ګواښ دی، پخوا فكر كيدي چي ګډ حکومت به ډير ژر د خپلمنځي اختلافونو له امله ړنګ شي.

## ستونزه چا سره ده؟

ولسمشر غني وويل چي زموږ ستونزه له پاكستان او په دويم قدم كي له طالب سره ده، معلوميږي چي غني غواړي له پاكستان سره هغه مهمه ستونزه چي د ډيورنډ يوطرفه كول دي، همدی ته يي اشاره او په دي به خبرو ته تيار وي.

دا ډول غني غواړي چي پاكستان سره تر اخر حده پورې مخکي ولاړ شي، تر څو پاكستان مخامخ ديوال ته ودروي چي يا خو ورسره لاره يوسي او يا خو ومني چي رښتونی نه دی، نو په دواړو حالتونو كي به غني د امريكا او نړيوالي ټولني توجه ځانته جلب کړي.

كه چيرته پاكستان او افغان حکومت توافق ته ورسيږي، بيا به پاكستان طالبانو ته ووايي چي نور په پاكستان كي د دوی له پاره د اوسيدو توان او توافق نه لري، هڅه به وکړي چي طالبان له ګډ حکومت سره خبرو ته تشويق کړي.

د پاكستان اړوند تګلاره باندي امريكا ډير زيات تاثير لري، امريكا انتظار كوي چي د ګډ حکومت مشران عمل كي څه وکړي، ځکه هغوئ خپل ستراتيژيک ملګري پاكستان په هيڅ ډول له لاسه نه ورکوي.

امریکا پاکستان ته په سېمه کې د یو نفوذي هیواد په توګه قایل دی، دا ډول سعودي عربستان هم په سېمه کې د پاکستان نفوذ غواړي، نو په دغسي حالت کې به غني ته مشکله وي چې پر پاکستان خپلې غوښتنې ومني.

### پاکستان خپلې موخې ترلاسه کړې

پاکستان به په امریکا کې د غني په ځینو خبرو ناخوښ وي، او پاکستان له غني سره د سولې پروسې تر نوم لاندې فکر کوم خپل ځنې مهم اهداف ترلاسه کړل:

۱-دا چې طالبانو د کورنۍ جګړې د مخنیوي له پاره د امریکا او بین الافغاني تفاهم او مذاکراتو له پاره تګلاره جوړه کړې وه، هغوئ غوښتل چې د افغانستان جګړه پای ومومي، اوس چې پاکستان دعوه کوي چې طالبان به دوی خبرو ته کینوی، فکر کیږي طالبان به نور د خبرو میز ته کښې نه نې، ځکه اوس که طالبان په خپله خوښه هم بین الافغاني تفاهم غواړي، خو عام ولس او نړیوال به وایي چې پاکستان دا کار وکړ، او دا خبره به هم کیږي چې طالبان په ربښتیا د پاکستان لاسپوڅي دي؛

دویم: هغه اعتماد او باور چې د کرزي د حکومت پر مهال له هند سره جوړ شوي ؤ، هغه هم د غني د سولې د پروسې له امله زیانمن شو، بیا به هند پر افغان او ځانګړې ډول پښتنو مشرانو باور ونه کړي؛

دریم: د منځنۍ آسیا او ځینو نورو هیوادونو اسلامپال وسلوال چې په وزیرستان او د پاکستان سرحدونو کې میشت ؤ هغوئ د ګډ حکومت او پاکستان د سولې مذاکراتو او تګ راتګ په مهال افغانستان ته را واوښتل.

پرته له شکه چې پر یمن د سعودي او متحدینو حمله یې د افغانستان په ګټه ده، پاکستان به اوس د سعودي خوا نیسي، ایران او امریکا به پر پاکستان بې باوره کیږي. دا ډول دا هم ممکن ده چې پاکستان له سعودي سره په دغه یاده جګړه کې په ربښتوني او قوي ډول ونه دریږي. بیا به د سعودي اعتبار هم پرې کم شي، او که د زړه له کومې ورسره ودریږي نو د امریکا او ایران سره به ستونزه پیداکړي.

دا چې په عراق کې د امریکایي پوځیانو له وتلو وروسته حالت ډېر خراب شو، یو عامل داهم کیدای شي چې امریکا له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو په ایستلو کې زړه نازړه دی.

بل لورته ته په اوکراین او سوریه کې د امریکا او روسیې ستونزه ده، له همدې امله به هم امریکا غواړي چې په افغانستان کې خپل پوځیان وساتي.

د ایران او امریکا د اټومي وسلو پر سر خبرو هم دادی مشروط نتیجه ورکړه، بل لورته سعودی هم د اټومي وسلو جوړولو خبرداري ورکړي

پورته خبرو ته په نظر کې نیولو سره سړی ویلای شي چې په افغانستان کې به جنګ روان وي، سوله نه کیږي، دوه کلونه چې تر کومه اوباما په واک کې وي، ارګ به د غني له پاره خوندي ځای وي، د اردو او پولیسو معاش او مصارف به په نورمال ډول تر دوو کلونو د غني حکومت ته ورکول کیږي، د ولایتونو مرکزونه ممکن سقوط ونه کړي.

د دانګام جګړه یو ښه مثال دی، افغان امنیتي ځواکونو ونه شوای کولای چې طالبان له دانګام څخه په شا کړي، کله چې د امریکا هوایي ځواک کومک ورته ورسیدي، طالبان یې په شا کړل.

### د پاکستان او ګډ حکومت سره د امریکا تګلاره لاهم سوال دی؟

اوس اوس داخبري کيږ ي چې د آی ايس آی او پاکستاني پوځ تر منځ د افغانستان پر مسئله د نظر اختلاف شتون لري، په لاهور کې د عيسويانو پر کليسا بريد، او ممکن همداسي نور بريدونه هم وشي، نښې نښاني داسي دي چې ممکن پاکستان له غني سره تر پايه د پوځ ژمنه شوې خبرو او تګلاري ته وفاداره پاتې نه شي.

کرزي هم ورته کار وکړ، همدا هيله يې وه چې امريکا به له پاکستان سره خبره سمه او خلاصه کړي، خو چې ونه شو، بيا نو کرزي د امريکا خلاف هم خبرې پيل کړي.

اشرف غني د کرزي په ډول نه دی، کومې وعدې چې راحيل شريف او آی اس ای ورسره کړي، په راولپنډۍ کې يې دوه په دوه خبري وکړي، که پاکستان پر خپلو ژمنو ودريدی، غني ورته له ډيرو شيانو تيريږي، ډيورنډ او هندوستان هم ورته مهم نه دي.

تازه معلومات ښيي چې پاکستان غني ته ورانديز کړي چې د افغانستان په هره قول اردو کې پاکستاني جنرالانو ته د پاکستان – افغانستان ګډو عملياتود تنظيم او انسجام له پاره ځاي ورکول شي، داسي معلوميږي چې پاکستان د دې له پاره خپل شرايط درنوي چې نور غواړي د سولې په نوم له پروسي وتلو له پاره بهاني او غوښتني غټې کړي.

چې افغانستان به بيا دغه ډول غوښتني نه مني، او پاکستان به ووايي چې تاسي زموږ غوښتني نه منئ نو موږ هم طالبان نه شو کينولای.

تر اوسه لاهم پاکستان ولسمشر غني ته وعده ورکوي چې طالبانو به خبرو ته کينوي، مګر وخت ته اړتيا شته.

غني امريکا ته وايي بي له تاسو افغانستان نه کيږي، که پاکستان خپلي پخواني پاليسي ته دوام ورکوي، غنی ورسره ټکر کوي، دی مطمئن دی چې تر ۲ کلونو ارګ څوک ورنه نه شي نيولي امريکا مطمئن کړی.

که پاکستان پوه شي چې امريکا لوبه کې ګډ شو، لوبه يو ډول او که افغانان وي بل ډول لوبه کوي.

سوله مشکل ده، تريخ واقعيت دی، د کال، دوو خبره نه ده، دلته به جګړه روانه وي.

که د ګډ حکومت مشران وتوانيږي چې په دولتي نظام کې اصلاحات راولي، ممکن امريکا د سولې پروګرام ته زړه ښه کړي، بيا به له طالب او پاکستان څخه هم غوښتنه وکړي چې له افغانستان څخه عراق مه جوړوئ.

که ګډ حکومت ونه شي کولای چې مثبت بدلون راولي بيا به همدې حکومت ته امريکا وايي چې تاسي او طالب خپل منځ کې ښه سره پوهيږئ، موږ مداخله نه کوو. لکه د کرزي د حکومت پر مهال چې يې ويل.

ډيری شنونکي په دې نظر دي چې غني به ونه شي کولای چې له امريکا سره کړي وعدې پرځای او هغه خبرې چې يې کړي هغوئ ته به د عمل جامه ور واغوندي.

همدا اوس د ټاکنو د اصلاحاتو کمېسيون د مشرې شکريې بارکزۍ او د دغه کميسون د غړو پر سر د غني او عبدالله جنجال دی.

دا ډول له سعودي عربستان څخه د غني د ملاتړ اعلان او د عبدالله مخالفت هغه څه دي چې د نظر اختلاف او خپلمنځي ستونزه د ارګ دننه شتون لري.

د ترکي او امين کمونسټ پلوه حکومتونو د اختلافاتو پر مهال هم روسان په افغانستان کي وُ، خو هغوئ کامياب نه شول چې د دوی خپلمنځي اختلافات ختم کړي، اوس هم امريکا ممکن د ګډ حکومت خپلمنځي اختلافات له منځه يوړلای نه شي. دا احتمال هم ډېر لږ نه شو ګڼلای چې امريکا به خپله هم نه غواړي د ګډ حکومت د دواړو مشرانو ترمنځ لانجه راکمه کړي.

نږدې ۶ مياشتي کيږي، حکومت په ټپه ولاړ دي، هيڅ نشته، د نويو ټاکل شوې واليانو غوغا واوريدل شوه چې په ولايتونو کې د خپلمنځي اختلافاتو او په حکومت کې د دخالت له امله کار نه شي کولای.

دګړ حکومت مشرانو هر هغه څه چي امریکایان پري خوشالېدل، دوی یو ګام مخکي تلل لکه خلقیانو او پرچمیانو چي د روسانو د خوشالي له پاره ورته کارونه کړي وو.
په سیاسي لحاظ د غني او عبدالله سفر لاسته راوړنه درلودله، دا چي دا ټولي امنیتي، سمه ییزې او نړیوالي ستونزې وجود لري ، دا جګړه یواځي زموږ نه ده، نړۍ او سېمي ته ګواښ دی. داخبري یې د دي له پاره وي چي د امریکا او نړیوالو ملاتړ ترلاسه کړي.

**پای بیا هم جګړه...**

ولسمشر غني دواړه لاري په بشپړ ډول سره کاروي، جنګ او د ده له نظره د سولي عملي هڅي.
د پاکستان په اړه یې شکونه او هیلي ښودلي، وایي یا به دواړه لامبو وهو او یا به دواړه غرقېږو.
خلاصه دا چي هیواد به په جګړه کې پاتې وي، جګړه به د هیواد شمال لورته غزول کیږي، د سولي تش په نامه هڅي به همداسي دوام لري، او خبره به وچ زور ته دریږي، وخت به وښیي چي کوم لوری وړونکي کیږي، امریکا به د اوسني حکومت ملاتړ کوي، او روسان ممکن په غیر مستقیم ډول په درېم لاس د طالبانو د دریځ او موقف نه ملاتړ په سیمه ییز ډول وکړي.